ماهنامه
حراء
Monthly
Hera
میاشتنی
ماهنامۀ تربیتی، علمی و دینی

پنجشنبه د ۱۳۹۹ د سنبلې ٦مه، محرم۸مه، د ۲۰۲۰م داگست ۲۷مه    لومړی کال لسمه گڼه

HAIAN FOUNDATION
Registered Charity
in the UK
Reg No: 1145407

### روزه روز عاشورا محوه کننده گناهان یک سال

پیامبر(صلی الله علیه وسلم ) در فضیلت روزه عاشورا فرمودند:
« در باره روزه ی روز عاشورا، باورم بر خدا این است که گناه یک سال قبل روزه دارش را محو میکند»
جمعه ۹محرم تاسوعا است (روزه اش سنت است، بخاطر این که روز قبل عاشورا است).
شنبه ۱۰محرم ، (روز عاشورا) است

## سرمقاله


### همزبانی هیچگاه وسیله برتری نیست

تنوع زبان ها یکی از نشانه های وجود ، قدرت و حکمت پروردگار و یک پدیده فطری و طبیعی است.
همه زبان ها در اصل مخلوق الله متعال بوده و هیچ زبان بر زبان دیگر فی حد ذاته برتری ندارد.
قبول این تنوع و احترام به این اصل در عمل، یک وجیبه انسانی و رسالت شرعی است.
تعصب و بد بینی در برابر زبان های دیگر ، از نظر اخلاق انسانی یک عمل قابل نکوهش و در میزان اسلام گناه و از روی قانون جرم پنداشته می شود.
انسان دارای فطرت سلیم انسانی، و فرد مسلمان به همه زبان ها به نظر احترام می بیند و در برابر تنوع و تعدد زبان ها مثبت نگر، مثبت اندیش و مثبت کنش بوده، و به همزیستی بین گویندگان زبان های مختلف و متنوع باور مند می باشد و حق گویندگان همه زبان ها را در رشد، غنامندی ، ترویج ، توسعه و گسترش زبان های مادری شان و زبان های دیگری که به آنها تکلم می کنند محترم می شمارد .
مسلمان کار و تلاش برای رشد و غنامندی زبان را اگر با انگیزه و نیت نیک باشد، عبادت تلقی می کند.
هرگونه کوشش برای جلوگیری از رشد و توسعه طبیعی زبان ها و تحمیل زبان و یا زبان های مشخص بر گویندگان زبان های دیگر و ممانعت از رشد و غنامندی آن ها، از نظر اسلام مردود است .
تنوع زبانی از ویژگیهای مثبت و خوب کشور عزیز ما افغانستان است و مردم کشور ما به زبان های گونه گون سخن می گویند .
پشتو، فارسی دری، ازبکی، ترکمنی،بلوچی،پشه ای، نورستانی، پامیری و گجری زبان های رائج سرزمین ما اند.
این زبان ها و زبان های دیگری چون عربی که با گذشت زمان گویندگان آنها تغییر زبان داده اند، از هزاران سال و قرن های متمادی در جغرافیای که امروز بنام افغانستان یاد می شود وجود داشته اند و جزء لا ینفک و لا یتجزای ساختار و هویت فرهنگی مردمان باهم برادر و برابر این سرزمین می باشند و در غنامندی فرهنگ و ثقافت این وطن و این ملت سهم مثبت و بارز دارند.
اعتراف به این حقیقت علمی و واقعیت عینی ، و احترام این تنوع و رعایت آن در عمل ، اصل مهمی است که عقل،شرع، اخلاق،عرف انسانی و ارزش های هموطنی بر آن تأکید مي کند .
رابطه زبان های رائج در افغانستان ، رابطه تکامل و تنوع و ارتباط گویندگان این زبان ها با یکدیگر ارتباط برادری انسانی،اخوت اسلامی و تعاون هموطنی و شراکت در مشترکات انسانی، اسلامی ملی است.



## صلح؛ تعبیرِ شیرین‌ترین رؤیاهای ملت رنجدیدۀ ما

صفحه ۳



### سوله او پخلاینه څه ده؟ او ځوانان پکې کوم رول لري ؟

مخ ۲



### تعصب او سوله

صفحه ۲



### د انسان پیدایښت!

صفحه ۵



### PILLARS OF IMAN (3): BELIEF IN ALLAH›S BOOKS

page 6



### LESSONS FROM CORONAVIRUS

page 7

# سوله او پخلاینه څه ده؟ او ځوانان پکې کوم رول لري؟

حسيب الله انځور

سوله او پخلاينه د الله -جل جلاله- له لوري هغه لوی نعمت دی، چې ټول ژوندي موجودات ورته د اکسیجن په اندازه اړتیا لري.

سوله هغه تنفس دی، چې انسانان يې د ځمکې پرمخ، مرغان په هوا کې، حیوانات يې په ځنګلونو کې او کبان يې په سمندرونو کې غواړي.

خدای پاک -جل جلاله- په قرآنکریم کې فرمایلي دي،( والصلح الخیر).

ژباړه په سوله کې خیر دی.(النساء،۱۲۸)

الله -جل جلاله- په واضح او ښکاره توګه باندې ټولو انسانانو ته امر کړی دی، چې تاسې په خپلو منځونو کې سوله وکړئ ، له شخړو او بې اتفاقۍ څخه ځانونه وساتئ.

نو، سوله او پخلاینه هغه لوی نعمت او غوښتنه ده، چې له برکته يې ټول انسانان او ژوندي موجودات په آزاده فضا او سوکاله چاپیریال ک ژوند تېروي او د ټولو وګړو ترمنځ خوښي او نېکمرغي رامنځته کوي.

**ځوانان:**

ځوانان د يوې ټولنې او هېواد هغه قوي ترين او له انرژۍ ډک ځواک دی، چې د ټولنې د ملا د تېر او د هېواد د بام(چت) د ستنو او پایو مثال لري.

څرنګه چې يو ژوندی جسم بدون د ملا د تېر نه ژوند نه شي کولای، همدارنګه ټولنه او هېواد بدون له ځوانانو نیمګړی هېواد دی.

ځوانان په تاریخ کې د هېوادونو انقلابیان او بدلوونکي بلل شوي دي، همدا ځوانان دي چې يو هېواد ته مثبت او یا هم منفي بدلون ورکوي.

همدارنګه ځوانان کولای شي چې هېواد او نړۍ د جنګ جګړو له ناخوالو راوباسي او د سولې، امنیت او پخلاینې په لور يې بوزي. په ټولنه کې د مشکلاتو، تشدد او ناخوالو د له منځه وړونکي یوازې ځوانان بلل شوي دي، همدغه ځوانان دي چې د ملتونو د هوساينې او پرمختګ لپاره لوری ټاکي.

دا چې ځوان قشر په ځوانه انرژۍ او هر اړخیزې پیاوړتیا او لوړ جرئت له کبله د هېواد د سوله، امنیت او ثبات راوستلو کې مهم رول لوبولای شي. ځوانان دي چې له مسؤولیته ډک بار ته اوږه ورکولای شي.

په خواشینۍ سره باید ووایم چې د تېرو څلوېښتو کلونو په جنګ جګړو کې زمونږ ځوانان سره تیت او پرک کړل.

ډېری ځوانان مو د بېلابېلو ډلو او ګوندونو لپاره او د مختلفو ګوندونو لخوا استعمال شول، چې د دوی پوهې، ځیرکتیا او راتلونکي ژوند ته يې لوی زیانونه ورسول او خپلې هیلې يې له لاسه ورکړې، چې ډېری ځوانان مو اوس هم پردیو اهدافو لپاره د مختلفو ګوندونو تر لاس لاندې د استعمال په حالت کې دي.

له بده مرغه چې د افغانستان حکومت هم د ځوانانو د مصروف ساتلو او کار لپاره هېڅ کوم ستراتیژیک پلان او طرحه نلري، چې اوس مهال هم ډېری ځوانان چې د بې کارۍ، غربت او ناهیلۍ له وجې په مختلفو جرمونو بوخت دي لکه: انساني قاچاق، مخدره توکوته مخه کول او داسې نور باندې يې لاس پورې کړی دی، چې د ډېرو ځوانانو ژوند يې له ګواښونو سره مخ کړی دی.

**د ځوان رول:**

- داچې د ټولنې زیاته برخه ځوان قشر جوړوي، نو ځوانان باید خپلې ځوانې انرژۍ او قوت ته په کتو د سولې تمثیل ګران وي او په ټولنه کې سوله او پخلاینه خپره کړي.

- ځوانان باید د جګړې او تاوتریخوالي زیانونه او د سولې او ورورولۍ ګټې بیان کړي، په دې اړه عامه پوهاوی ورکړي، د سولې لپاره تبلیغات وکړي، سوله ایز فکر خپورکړي او د ځوانانو ذهنونه روښانه کړي.

- ځوانان باید په ټولنه کې ددې جګړې په اړه وګړو ته معلومات ورکړي، چې دغه جګړه زموږ او د ټولنې په خیر نه ده، دا ټولې پردۍ برنامې دي چې د ولسونو ترمنځ ددښمنۍ سبب ګرځي.

- زما په فکر د سولې او پخلاینې د فکر او عمل خپرلو لپاره تر ټولو ښه ځای پوهنتونونه دي، ځکه په پوهنتونونو کې ټول ځوانان وي، چې عمرونه يې د ۱۸ نه تر ۲۵ کلنۍ پورې رسېږي، همدغه ځوانان باید په پوهنتونونو کې خپل نظریات تبادله کړي، دسولې په ګټو او د جګړې په زیانونو خبرې او بحثونه وکړي.

دا چې په پوهنتونونوکې د هېواد د ۳۴ ولایتونو څخه ځوانان راټولېږي او باید داسې پروګرامونه جوړ کړي چې بیا کله خپلو کورنو او کلیو ته ځي، نو عملي کړي، د ټولنې وګړو ته دې د اسلام په رڼا کې د سولې تعریف وکړي او د جګړې زیانونه دې ورته بیان کړي. همدارنګه دې د کلي په مسجدونو، مدرسو او مکتبونو کې تنکیو ماشونانو او لویانو ته د سولې او جګړې په اړه معلومات ورکړي.

## تعصب او سوله

عابد محبوب صاحبزاده

مخکې لدې چې دولتونه په اوسني شکل په نړۍ کې رامنځته شي کورنیو، قبیلو او قومونو به د خپلو افرادو د حق غوښتنه کوله او پرې د ظلم په صورت کې به يې ورته انتقام اخیسته او دغه وګړي به هم خپل تبر ته په هره معنی متعصب وو، خو کله چې قوي متمرکز نظامونه رامنځته شول او د حکومت قضایي ادارو وکولای شول چې د مظلوم حق له ظالم څخه واخلي د ټولنې افرادو هم په ډېر آرامه زړه ورو، ورو تعصب هیر کړ او تعصب له منځه ولاړ چې د تعصب د له منځه تلو د دورې غوره مثال د عمر الفاروق رضی الله عنه د خلافت زمانه وه.

مؤرخین لیکي چې کله د قریشو د مشهور سردار ځوی او د قریشو مشهور سردار او جلیل القدر صحابي عمرو بن العاص د مصر د حاکم په صفت وټاکل شو په مصر کې يی ځوی محمد د اسونو د ځغاستې په يوه مسابقه کې يو مصری په لرګي وواهه دغه مصري د عدالت د موندلو په موخه د اسلامي خلافت پایتخت مدینې منورې ته مخه وکړه او په مسجد نبوي کې د مسلمانانو حاکم او خلیفه عمر الفاروق ته عارض شو حضرت عمر رضی الله عنه بې له ځنډه يو استازې د مصر په لور ولیږه او عمرو بن العاص رضی الله عنه ته يی امر وکړ چې له خپل ځوی سره مدینې منورې ته ډېر ژر حاضر شي، وروسته لدې چې عمرو ابن العاص له خپل ځوی سره مدینې منورې ته د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضور ته راغی عمر رضی الله عنه بې له ځنډه مظلوم مصري ته د دعوی د اثبات نه وروسته امسا ورکړه او امر يی ورته وکړ چې د مصر د حاکم ځوی او یا په اوسنۍ اصطلاح شهزاده ووهي او خپل انتقام ترې واخلي مصري همداسې وکړل خو د مدینې منورې خلک او مصری ځوان هغه وخت حیران شول کله چې عمر فاروق رضی الله عنه مصري ته وویل چې اوس د مصر حاکم عمرو بن العاص هم د خپل ځان د انتقام لپاره ووهه ځکه که چیرې دی یعنې پلار يی د مصر حاکم نه وای ځوی يی ته هیڅکله نشوې وهلای خو ځوان عمرو بن العاص رضی الله عنه ته عفوه وکړه او په راضي زړه بیرته خپل وطن ته ستون شو.. دا او دیته ورته په زرګونو نور مثالونو پدې شاهد دي چې هیڅکله تعصب یواځې په نظریاتو او تبلیغاتو له منځه نه ځي او د له منځه وړلو لپاره يی قوي مرکزي نظام ته چې د عدالت نافذونکی وي ضرورت دی

خو کله چې په يوه ټولنه کې مرکزي نظام کمزوری او بې ځواکه شي او پدې ونه توانیږي چې د مظلوم حق د ظالم له پنجو څخه واخلي، په ټولنه کې انارشي او بې عدالتي خپره شي په هغه ټولنه کې باید تعصب په شعوري او غیر شعوري ډول د افرادو تر منځ د يو نسبي خوندي ژوند د لرلو په موخه وده وکړي،

چې پداسې حالتونو کې تعصب د ټولنې يو ضرورت دی او د ټولنې وګړي مجبور دی چې د خپل نفس، مال او حیاء د خوندي ساتلو په موخه متعصب و اوسي.

متاسفانه چې زمونږ ګران هېواد افغانستان د وروستۍ نیمې پیړۍ د ناخوالو له کبله خپل مرکزي نظام په ډېر بد ډول له لاسه ورکړی او روزمره جنګونه يی لا زیات ځپي پداسې حالتونو کې د افغانستان علماوو، د جنګ دواړو اړخونو او د نفوذ څښتنانو ته پکار ده چې په وطن کې د دایمي سولې لپاره کار وکړي چې په راتګ سره به يی يو ځل بیا د افغانستان مرکزي نظام پیاوړی عدالت قائم او د وطن له نورو سلګونو ناخوالو سره د تعصب کرغیړنه پدیده هم له منځه ولاړه شي .

# صلح؛ تعبیرِ شیرین‌ترین رؤیاهای ملت رنجدیدهٔ ما

انعام الله رحمانی

صبحگاهِ امروز، هنگامی‌که اشعهٔ زرّین آفتاب، کوه‌پایه‌های برف‌اندودِ سرزمین من را با رنگِ زرد ملوّن کرده بود، پنجرهٔ اتاق را گشودم و تپه‌های طلایی‌رنگ دیارِ نازنینم را به نظّاره نشستم. با دیدن چنان منظرهٔ دل‌انگیز، حالت عجیبی مرا به آغوش کشید. خیالم بسان یک طائرِ تندبالِ تیزرفتار، پَر گشود و به‌سوی گذشته‌های دورِ این سرزمین به‌راه افتاد. خود را کنار دریای نقره‌فام کابل و باغ‌های جنت‌نظیرِ آن یافتم و توأم با اقبال بزرگ –که به تازه‌گی از لاهور به زیارت کابل و غزنه و قندهار آمده بود- این شعر دل‌نشینِ حکیم مشرق را زمزمه کردم:

شهرِ کابل خطهٔ جنت‌نظیر
آب حیوان از رگِ تاکش بگیر
در ظلام شب سمن‌زارش نگر
بر بساط سبزه می‌غلطد سحر
آن دیارِ خوش‌سواد، آن پاک‌بوم
بادِ او خوش‌تر ز بادِ شام و روم
ناید اندر حرف و صوت اسرارِ او
آفتابان خفته در کهسارِ او




دست اقبال را گرفتم و با معیّتِ حضرتِ او پا در رکاب خیال گذاشتم و خویشتن را در کنار خرقهٔ مبارک، در شهر تاریخی قندهار یافتم. در آن‌جا چهرهٔ بشّاش و سیمای نقره‌گونی را به نظّاره نشستم که دستار گندمی‌رنگِ بزرگی به سر داشت. جبینش باز بود و چهره‌اش مهتابی. فردی با چنین مواصفات، کسی نبود جز فرمان‌روای عظیم کابل و شهریارِ بزرگِ غزنه و بلخ و بدخشان و هرات. احمدشاه ابدالی؛ آن یلِ گردن‌فراز قلعه‌گشا و آن ستارهٔ تابناک در افقِ آمالِ این سرزمین. او، از اقبال بزرگ، راجع به وضعیتِ دهلی پرسید. پیر مشرق در جواب او گفت:

هزار مرتبه کابل نکوتر از دهلی‌است
که آن عجوزه عروسِ هزار داماد است

احمدشاه ابدالی –آن مرد پُرافتخار تاریخ سرزمین ما- آهِ اندوهناکی از نهان برآورد و مروارید اشکی از دیدگانش فرو چکید. آن‌گاه برای اقبال، خاطرنشان ساخت که ملت‌ها تقدیر خویش را خودشان می‌نویسند و اختیار دارند که بر جبینِ سرنوشت خویش، طلوع آفتاب صبح آزادی را رسم می‌کنند و یا هیولای سیاهِ شب‌های برده‌گی را.

آن‌گاه این کلمات زیبا از زبانِ حضرت اقبال فرو چکید :

خدا آن ملتی را سروری داد
که تقدیرش به‌دست خویش بنوشت
بدان ملت سروکاری ندارد
که دهقانش برای دیگران کِشت

آن‌دو، با هم سخن می‌گفتند و من داشتم به گفته‌های شیرین و دل‌پذیرِ آن‌ها گوش فرا می‌دادم. اقبال، سرزمین کابل را ستود و ساکنانِ غزنه و قندهار را نماد تقوا و الگوی آزاده‌گی قلمداد کرد. از بدخشان سخن گفت و پارهٔ لعل خویش را، یادگاری از این سرزمین باستانی به‌شمار آورد. دیری نگذشته بود که حکیم مشرق، از جنگ‌های بزرگ و نبردهای خونینِ احمدشاه سخن به میان آورد. خندهٔ ملیح و نمکینی در چهرهٔ احمدشاه ابدالی ظاهر شد. دستِ خویش را بر شانهٔ اقبال گذاشت و گفت: «حکومت من بر اساس عدل و عدالت استوار است و در سایهٔ حاکمیت من هیچ معیاری جز تقوی و عدالت وجود ندارد. میان مردمانِ این سرزمین فرقی قایل نیستم و بهترین آن‌ها از دیدگاه من پرهیزگارترین و وطن‌دوست‌ترینِ آن‌هاست. مردم نیز در کارهای نیک، حاکمانِ خویش را یاری می‌رسانند و در کارهای بد، به نصیحتِ آنان می‌پردازند. مردم، مصدر حکومت است. از همین‌رو؛ در دیارِ من، پیوسته امنیت برقرار است و کبوترانِ صلح و آشتی بر فرازِ آسمانِ کبودِ این سرزمین بال می‌گشایند و پرواز می‌کنند.

من، حتّی تحمّل این را هم ندارم که صدای دلخراش شلاق‌های استبداد را از همسایه‌گانِ خویش بشنوم. بدین‌علت، به‌سوی هندوستان لشکر کشیدم و به کمک مستضعفانِ آن دیار شتافتم و در انتخاب زمامدار عادل، با ایشان همکاری نمودم. این جنگِ من، نبردی بود برای برقراریِ صلح و زدودنِ ابرهای غلیظ استبداد از آسمان پُرستارهٔ هندوستان. من می‌خواهم تختهٔ کشتی مردمان آزاده را از قرارگرفتنِ در پشت نهنگانِ ویرانگرِ آدمی‌خوار برهانم.» آن‌گاه، شعری بدین الفاظ برایش الهام شد:

ما به صلحیم و فلک در پَیِ جنگ است این‌جا
دل از این حادثه بسیار به‌تنگ است این‌جا
ما تباهی زده‌گانیم در این بحرِ فنا
تختهٔ کشتیِ ما پشتِ نهنگ است این‌جا

شعلهٔ آفتاب سوزان، دست بر جبین من نهاد و مرا از پلهٔ نردبانِ خیال به پایین کشید. دیدم که خورشید، پیرایه به سیماب سحر بسته و رفته‌رفته سوزان‌تر شده و از افق مشرق به‌سوی مغرب به حرکت افتاده‌است. اگر حرارت آفتاب، جبینم را آماج قرار نمی‌داد، شاید سخنانِ بیش‌تری با احمدشاه ابدالی می‌داشتم و حتّی شاید کمی عقب‌تر رفته و با سلطان محمود غزنوی –آن بت‌شکن عظیم تاریخ- ملاقات می‌کردم و گفت‌وگوی او را با اقبال –که از ستاینده‌گانِ او بود- می‌شنیدم و لذت می‌بردم و سرِّ پیروزی‌های پی‌درپی او را می‌دانستم. اما دردا و دریغا که گرمای آفتاب، مرا از خیالاتِ رؤیاگونه‌ام بازداشت و به پیش‌رفتن فرو نگذاشت. دیدم که دهلی، آزاد گشته است و کابل، عروسِ هزار داماد!

آن‌گاه گریستم. به حالت ملت رنجدیده‌ای که هر روز آماج صاعقهٔ عذاب قرار می‌گیرد. برای کودک معصومی‌که شامگاهان، انتظار پدرِ غریب‌کارش را می‌کشد؛ اما ناگهان با نعشِ در خون‌طپیدهٔ او روبه‌رُو می‌گردد. برای آن مادر نامرادی‌که بسمل‌شدنِ اطفال معصومش را عزا گرفته‌است. برای همه؛ و برای خویشتن که هر روز، حوادث دردناکی را در میهن دردمندِ خویش به نظّاره می‌نشینم؛ اما نمی‌توانم در خاموش‌ساختنِ آتش جنگ و ناآرامی، کار بایسته‌ای را انجام دهم. با خود گفتم: «پس از امروز، دست بر دستِ برادران همفکرم و هم‌اندیشه‌ام خواهم گذاشت و در راستای فروکاستنِ جنگ و ویرانی از هیچ تلاشی دریغ نخواهم کرد.» چنین الفاظی را زیرِ زبانم جاری می‌ساختم که ناگهان صدای زیبایی را با گوش دلِ خویش، شنیدم که می‌گفت: «اگر تو، آن شوی، و آن، تو شود؛ تو و آن، به «ما» تبدیل خواهید شد. در این‌صورت، شما به استقبال صلح نخواهید رفت. صلح شما را استقبال خواهد کرد. پس، به‌پیش به سوی صلح.»
به‌پیش به‌سوی صلح!
واژهٔ زیبا و تعبیر شیرین‌ترین رؤیاهای ملت رنجدیده و بلاکشیدهٔ افغانستان!



## سیرت اخلاقی رسول گرامی ﷺ

### بخش هشتم

**اخلاق رسول گرامی ﷺ با عامهٔ مردم (۱)**

حسن معاشرت، برخورد شایسته با مردم از صفات والا و سفارشات پیامبر گرامی ﷺ اسلام است. ابن مسعود رضی الله عنه می‌گوید: رسول الله ج فرمود: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ أَوْ بِمَنْ تَحْرُمُ عَلَيْهِ النَّارُ، عَلَى كُلِّ قَرِيبٍ هَيِّنٍ سَهْلٍ» [سنن ترمذی (٢٤٨٨)]. «آیا به شما خبر ندهم که آتش جهنم بر چه کسی حرام است؟ آتش، بر هر شخصی که با مردم ارتباط نزدیکی داشته و آسانگیر، متواضع و نرم خوی باشد، حرام است».

رفتار رسول گرامی ﷺ با مردم مملو از نیکی و ملاطفت بود و با هیچ کس بر اساس معیارهای مادی رفتار نمی‌کرد فقرا را به خاطر فقر و تهی دستی مورد بی‌مهری قرار نمی‌داد، بلکه با چهره‌ای باز و گشاده بر اساس معیار ایمانی و انسانی با دیگران روبه رو می‌شد، با همه مردم، طوری رفتار می‌نمود که شخصیت و احترام افراد مراعات شود و کسی تحقیر نگردد و یا مورد تمسخر واقع نشود.

ام المؤمنین عایشه ل می‌گوید: هرگاه رسول الله ﷺ اطلاع می‌یافت که فلان شخص، سخنی ناشایست بر زبان آورده است، نمی‌گفت: چرا فلانی چنین گفته است؛ بلکه (بدون ذکر نام آن شخص) می‌فرمود: «چرا برخی از مردم چنین و چنان می‌گویند»؟ [سنن ابو داود (٤٧٨٨)]

انس س خادم رسول گرامی ﷺ می‌گوید: «ده سال برای رسول الله ج خدمت کردم هرگز نگفت: آه از دست تو و هرگز به خاطر کاری که کرده بودم، نگفت: چرا چنین کرده‌ای؟ و هیچ وقت درباره کاری که انجام ندادم از من سوال نکرد که چرا انجام نداده‌ای؟». [متفق علیه]

زندگی و شخصیت پیامبر گرامی صلی الله علیه وسلم بهترین الگو و نمونه برای تمامی بشریت است، آنجناب هیچگاهی در مقابل زیر دستان خویش از خشونت و تندی کار نگرفته است.

ام المؤمنین عایشه ل می‌گوید: «رسول الله صلی الله علیه وسلم هیچگاه خادمی و یا زنی را لت و کوب ننموده است». [سنن ابو داود (٤٧٨٦)]

پیامبر گرامی صلی الله علیه وسلم دوست نداشت کسی به خاطر او از جایش برخیزد و می‌فرمود: «مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ». [سنن ترمذی (٢٧٥٥)] «هر کس از بلندشدن مردم به خاطر احترامش خوشحال می‌شود، باید جای خود را در جهنم آماده کند».

## د انسان په روغتیا کې د اوداسه رول

د انسان پوستکی د دوه طبقو څخه جوړ شوی چې یوه یې خارجي او بله یې داخلي طبقه ده .

خارجي طبقه چې د خارجي محیط سره په تماس کې ده ډېر واړه سوري لري چې شمار یې ګران دی .

په داخلي طبقه کې دوه ډوله غدوات وجود لري چې یو ډول غدوات یې خولې یعنې مالګینې اوبه افرازوي او بل ډول غدوات یې د سیبوم په نامه سره یادیږي چې شحمي ( غوړ ) مواد افرازوي ، د دې دواړو غدواتو ترشحات د پوستکي څخه بېرون راوځي او دپوستکي سطحې ته ځان راوباسي .

په دې لحاظ د انسان پوستکی څو دندې (وظیفې ) لري چې یو جذب او بل افراز دی ، د جذب او امتصاص په صورت کې د وړو سوریو څخه میکرو اورګانونه بدن ته داخلیږي خو دا میکروبونه ډېر واړه او کوچني وي ، کله چې پوستکی زخمي شي نو بیا ډېر میکروبونه د پوستکي له لارې بدن ته داخلیږي . په هغه صورت کې چې د انسان بدن تر ډېرې مودې پورې ونه مېنځل شي هغه خیرن کیږي او دپوستکي څخه چې کومه غوړه ماده راوځي د میکروبونو راجذبولو کې مرسته کوي چې په نتیجه کې انسان ناروغه کیږي خو که په صابون یا اوبو سره ځان ووېنځل شي یو طرف ته خیري او شحمي مواد له پوستکي څخه لیرې کیږي کوم چې د میکروبونو لپاره د نمو او ودې سبب ګرځي او په دې ډول د میکروبونو د تکثر مخه نیول کیږي .

بل لوري ته میکربونه د اوبو سره په تماس کې راځي د اسموسس د قانون په اساس اوبه جذبوي ،پړسیږي او بلاخره له مینځه ځي .

نو مسلمانان باید د اسلام له احکامو څخه په ګټې اخیستلو سره د بدن پاکوالي ته خاصه توجه وکړي ځکه څومره چې په اسلام کې د اخلاقو او دنفس پاکوالی مهم او ضروري دی په هماغه اندازه د بدن او ځان پاکوالی او صفایي هم ضروري او مهمه ده او همدا د روغتیا رمز او راز دی .

مسلمان په شپه اوورځ کې پنځه وخته لمونځ کوي چې د لمانځه لپاره اودس او طهارت هم کوي په اودس کې دلاسونو ، پښو او مخ وېنځلو سربیره خوله او پزه هم وېنځل کیږي .د یو مصري عالم تحقیقاتو ثابته کړې چې د اودس کوونکي په خوله او پزه کې د میکروبونو تعداد کم وي نسبت هغه کسانوته کوم چې اودس نه کوي .

**په نړیواله سطحه نظافت ته توجه :**

w hoدجنیوا ۱۹۸۷ میلادي کال په یوه خپرونه کې یې دلاسونو د پاکوالي او وېنځلو په برخه کې په دې خبره تاکید کړی چې تاسې به دمرض د انتقال دمخنیوي په خاطر خپل لاسونه همېشه پاک ساتئ او دلاسونو نظافت نه ساتل د مرض د مرض د انتقال سبب ګرځي . همدا رنګه هغه څوک چې دمریضانو تداوي او علاج کوي باید خپل لاسونه پاک او صاف وساتي . په دې خپرونه کې دا هم یاده شوې چې د دایه ښځو لپاره پکاردي چې د ولادت په دوران کې خپل لاسونه څو ځلي په صابون پاک کړي ، د مرضونو څخه د ځان ژغورلو لپاره غوره او بهتره طریقه نظافت ساتل دي ( Who Genva – 1987) . یو یهودي عالم Tgnaz Sammelweis په ۱۹۵۰م کال د Viena په عمومي روغتون کې دا نظریه ورکړه : هغه مېرمنې چې په دې شفاخانه کې تر اوسه د ولادت دوران کې مړې شوې دي د هغې یوازېنی سبب د ډاکټرانو د لاسونو چټلي او د نظافت نه مراعاتول وو. دغه ډاکټر د دې نیو کې په وسیله له شفاخانې څخه ووېستل شو خو وروسته ټولو ته دا ثابته شوه چې دا سمه خبره او باید په راتلونکې کې مراعت شي .

دې خبرې ته باید اشاره وکړو چې کوم کار اسلام (١٤٠٠) کاله مخکې وړاندې کړې ، خپلو پیروانو ته یې د هغې په عملي کولو سخت تاکید کړی د ایمان نیمایي برخه یې ګڼلې هغه کار اوس دنړۍ ډاکټران او صحي کسان خلکو ته ښايي .

*******************

# د انسان پيدايښت

انسانان او نور حيوانات په خوراک، څښاک او توليد مثل کې تقريباً يوبل ته نژدې طريقه او طرز العمل لري خو انسان د خپل علم، پوهې، زيرکۍ او عقل په برکت دا ټول مخلوقات (حيوانات ، نباتات، جامدات او مايعات) دخپلې فايدې اوګټې لپاره استعمالوي.

حال دا چې نورحيوانات يوازې د دې لپاره هلې ځلې اوکوښښ کوي چې خوراک او څښاک وکړي او خپل مثل زيات کړي. د ژوند يواځينی هدف او مقصديې خوراک، څښاک او توليد مثل وي او د همدې لپاره خپل ژوند ته ادامه ورکوي. دانسان د ژوند مقصد او هدف يوازې دا نه دی چې خوراک پيداکړي او هغه وخوري، توليد مثل وکړي او خپل نسل پرې زيات کړي بلکې انسان په دې غور او فکر کوي چې زه څوک يم؟ په دې پراخه او وسيع کائنات کې زما مقام او مرتبه څه ده؟ او بالاخره چېرې به ځم او څه به رابانديې کيږي؟

دا هغه پوښتنې دي چې دانسان په ذهن کې تل ګرځي او د هغې د سم او انسان د لمر،سپوږمۍ، سيارو او ستورو ښکته پورته کېدل ګوري ، د نورو حيواناتو او د خپل هم جنس انسان) پيداکېدل او مړه کېدل په خپلو سترګو ګوري. دخپل کوچني والی، بوډاتوب او مرګ په هکله په فکر کې وي خصوصاً په دې برخه کې ورسره ډېر فکروي چې زه مخکې له پيدايښت څخه څرنګه وم، څرنګه مې د مور په رحم کې ځومياشتې تېرې کړي او بياڅرنګه پيداشوم؟

ترهغې چې انسان خپل ځان او خپل بدن ونه پيژني د الله جل جلاله معرفت او پيژندل څه اسان کارنه دی او هر چا چې خپل اصليت وپيژنده نو خپل رب به خا مخا پيژني. دانسان د وجود او بدن نظم او ډسپلين په دې دلالت کوي چې دا کائنات او دا بدن يوداسې مدبر، منظم او با قدرته خالق پيداکړی چې د هغه ساری او شريک هيڅ نشته، ډېر باريک بين او لطيف ذات دی. د پو ره حکمت او لوی قدرت خاوند دی،هر څه يې په مناسب ځای او مقام کې ځای پر ځای کړي په دې هکله الله جل جلاله خپلو بندګانو ته دا رنګه فرمايي:

و في الارض ايات للموقنين وفی انفسکم افلا تبصرون (الزاريات-۲۰-۲۱)

او په ځمکه کې د يقين کوونکو لپاره لويې نښانې دي او ستاسې په نفسونو کې هم لويې لويې نښانې دي آيا تاسې خپلو نفسونو ته نه ګورئ او هغه نه شئ درک کولای.

همدا رنګه الله جل جلاله فرمايي:

سنريهم اياتنا فی الافاق و فی انفسهم حتی يتبين لهم انه الحق (فصلت-۵۳)

زر دی چې مونږ دوی ته وښايو خپل اياتونه او نښانې په افاق او په نفسونو د دوی کې ترڅو چې دوی ته څرګند او واضح شي چې دا حق دی.

که چېرې مونږ د دې مبارکو اياتونو د هدايت پر بنسټ خپل نفس او بدن ته متوجې شو او هغه تر څېړنې لاندې ونيسو نو دا به راته څرګنده شي چې زمونږ بدن او دا ټول کائنات يو لوی او عظيم الشان ذات پيدا کړي کوم چې وحده او لاشريک دی.

د انسان په دې کوچني وجود او بدن کې چې څومره مجهزې، مدرنې،ظريفې،او دقيقې فابريکې او مشينونه کار او فعاليت کوي د ډېر تعجب او حيرانتيا وړ دي.د انسان د ښټورګي،زړه، ځګر،عصبي سيستم،او سږو فعاليت او کار د دې خبرې شاهدي ورکوي چې دا ټول يو حکيم، مدبر، لطيف او قادر مطلق ذات پيدا کړي او په خپل کامل قدرت بانديې يې د هغوی فعاليت جاري ساتلی دی.

د هغوی د فعاليت لپاره يې يو منظم قانون او برنامه جوړه کړې ترڅو هريو د هغې مطابق خپل کارته دوام ورکړي او که هره عضوه د ټاکل شوي قانون څخه مخالفت وکړي نو د بدن د مملکت نظم،اداره او امنيت ورسره خرابيږي هرې خواته ګډوډي او بې نظمي مينځ ته راځي او په نتيجه کې د بدن مملکت د سقوط او بربادۍ سره مخامخ کيږي او همدې ته تکويني يا طبيعي قانون وايي څومره چې علم او ساينس پرمختګ کوي په هماغه اندازه د الله جل جلاله د دين حقيقت څرګنديږي او داسې معلوميږي چې ساينس او علوم د الله جل جلاله د دين خدمت کوونکي دي .

د دې لپاره چې د طب د پوهنځي شاګردان او محصلين پدې پوه شي چې الله جل جلاله مونږ ته څه هدآيات راکړي او نوي علوم هغه څرګند تائيدوي او دهغې په هکله څرګند بحث او پلټنه کوي نو ځکه مونږ د دې بحث ليکل ضروري وګڼل.

مونږ د انسان د پيدايښت په هکله د اسلام او ساينس له نظره بحث کووترڅو دا واضحه کړو چې اسلام (۱۴۰۰) کاله مخکې پدې برخه کې چې څه ويلي هغه اوس ساينس تائيدوي ځکه ساينس اوس کټ مټ هماغه خبرې ثابتوي کومې چې د الله جل جلاله لويې او اعظمې معجزې قرآن عظيم الشان (۱۴۰۰) کاله مخکې فرمايلې وي.

قرآن کريم چې د انسان د پيدايښت مسئله ياده کړې د هغې څخه هدف او مقصد دا نه دی چې مسلمانان دې د امبريولوژي د علم څخه خبر شي بلکې دا يادونه د دې لپاره ده چې باغي او سرکشه انسانان دې ته متوجې کړي چې تاسې په اول کې څه شی وئ! بيا څرنګه مينځ ته راغلئ او اوس کوم شي تاسې دې ته مجبورکړي ياستئ چې د الله جل جلاله د وجود او دين څخه انکار کوئ ! ته چې نن دومره کبرجن، مغرور او بې پروا يې څه وخت مخکې ژوند ته دې متوجې شه چې د کوم شي څخه پيدا شوی يې؟

په کوم ځای کې لوی شوی يې؟ او په څه ډول بيا دې نړۍ ته راغلی يې؟ دا داسې خبرې دي چې قرآن کريم په کراتو، کراتو د هغې يادونه کړې ترڅو انسانانو ته پند او عبرت وګرځي او د خپل خالق دين او قانون ته توجه وکړي او هغه د خپل لارې مشال او رهنما وګرځوي .

نني علوم د انسان پيدايښت د دې لپاره څېړي چې څرنګه سپرم او تخمه سره يو ځای کيږي؟ بيا څرنګه حجرات ويشل کيږي ؟ په څه ډول غړي او سيستمونه مينځ ته راځي اوبالاخره يو مکمل انسان ورڅخه جوړيږي ؟

دا دواړه يادونې داسې مثال لري لکه چې ډاکټر يا معالج يو حيوان مطالعه او معاينه کوي او يو قصاب حيوان کوري او معاينه کوي. معالج او ډاکټر د دې لپاره حيوان ګوري او مطالعه کوي او دهغې په ټولو خصوصياتو ځان پوهوي چې د هغه سره مرسته او کومک وکړي، هغه د تکليف، درد او زحمت څخه خلاص کړي او دهغه ژوند وژغوري.

خو قصاب په بل فکر او مقصد باندې حيوان ګوري هغه ترمطالعې او معاينې لاندې نيسي چې دا به څومره غوښه کوي،څومره به ګټه او څومره به تاوان کوي. هغه د حيوان په غم او فکر کې نه وي بلکې د خپلې ګټې او فايدې غم ورسره وي. اسلام چې د انسان د پيدايښت په هکله څه فرمايلي هغه کټ مټ داسې دي لکه چې يو معالج او ډاکټريې کوي ځکه اسلام د انسان او نېکبختۍ په فکر کې دی د هغه دا مقصد دی چې انسان سمې او مستقيمې لارې ته متوجې کړي ، د غلطو او کږو لارو څخه يې وساتي، په همدې مقصد او هدف قرآن کريم د انسان د خلقت په راز او رمز باندې خلک پوهوي مونږ غواړو د چې د ساينس له تجربو څخه ګټه پورته کړو او هم د خپل خالق او پيداکوونکي د عبادت لپاره ځان برابر او چمتو کړو.

۱ – د انسان حقيقت او اصليت :

د انسان د اصليت او حقيقت په هکله قرآن کريم دارنګه فرمايي:

۱ – ولقد خلقنا الانسان من سللة من طين (المؤمنون-۱۲)

بېشکه مونږ انسان د خاورې جوهر او خلاصې څخه پيدا کړ.

همدارنګه فرمايي:

۲ – هوالذی خلقکم من تراب (المؤمنون-٦٧)

الله جل جلاله هغه ذات دی چې تاسې يې د خاورې څخه پيدا کړي ياستئ.

په بل ځای کې فرمايي:

۳ – يا ايهاالناس ان کنتم فی ريب من البعث فانا خلقناکم من تراب (الحج-۵)

ای انسانانو! که چېرې تاسې په بيا راژوندي کېدو کې شک لرئ نو مونږ تاسې پيدا کړي ياستئ له خاورې څخه (نو بياموهم د مرګ څخه وروسته ژوندي کولای شو)

د انسان د اولني پيدايښت په برخه کې فرمايي:

٤ – الذی احسن کل شئ خلقه و بدا خلق الانسان من طين (السجده-۷)

الله جل جلاله هغه ذات دی چې ښايسته کړي يې دي ټول شيان د پيدايښت له نظره او دانسان پيدايښت يې له خټې څخه شروع کړی.

همدارنګه الله جل جلاله فرمايي:

۵ – ترجمه: له دې خاورې څخه مو تاسې پيدا کړئ او همدې ته مو بيرته ورګرځوواو يو ځل بيا مو له دې خاورې څخه راپورته کوو(طه-۵۵)

پورتنيو مبارکو اياتونو دوه مسئلو ته اشاره کړې يو دا چې اولنی انسان آدم عليه السلام د خاورې څخه پيدا شوی.(اسلام او ساينس کتاب)

# PILLARS OF IMAN (3):
# BELIEF IN ALLAH›S BOOKS

**INTRODUCTION**

Believing in the divine books revealed is an inseparable part of the whole system of faith, which is not complete and cannot be achieved except by it. Allah S.W.T.said:

**آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ**

*"The Messenger believed in what He revealed to him from His Lord and the believers, all who believed in Allah and His angels and His Books and Messengers"* (Al-Baqarah: 285)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا آمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي نَزَّلَ عَلَىٰ رَسُولِهِ وَالْكِتَابِ الَّذِي أَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ۚ وَمَنْ يَكْفُرْ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا

*"O ye who believe! Believe in Allah and His Messenger, and the Book that is revealed to His Messenger, and the Book that was revealed before, and those who disbelieve in Allah, His angels and His Books and Messengers. Far away "* (An Nisa: 136)

The work book is 'kitāb' in Arabic. The root of the word is **'katb'((كَتَب** which means gathering/compiling something. This supports the Islamic view that Allah's messengers received books gradually, in stages. We hold a firm belief that all the holy books were revealed by Allah S.W.T and that Allah spoke them in a real sense (they are the words/speech of Allah).

**METHODS OF REVELATION**

1) Some were heard directly from Allah, from behind a veil

2) Conveyed by an angelic messenger to a human messenger

3) Written by Allah S.W.T himself, such as the Tablets of prophet Musa A.S.

وَمَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُكَلِّمَهُ اللَّهُ إِلَّا وَحْيًا أَوْ مِن وَرَاءِ حِجَابٍ أَوْ يُرْسِلَ رَسُولًا فَيُوحِيَ بِإِذْنِهِ مَا يَشَاءُ ۚ إِنَّهُ عَلِيٌّ حَكِيمٌ

*It is not given to any human being that Allah should speak to him unless (it be) by Inspiration, or from behind a veil, or (that) He sends a Messenger to reveal what He wills by His Leave. Verily, He is Most High, Most Wise. (Ash-Shoora: 51).*

**BELIEF IN ALL OF THE BOOKS**

Belief in Allah's holy books entails believing in the books that Allah has mentioned in **general terms** and believing in those which he has **specifically mentioned** by name

فَلِذَٰلِكَ فَادْعُ ۖ وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ ۖ وَقُلْ آمَنْتُ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ **مِنْ كِتَابٍ**

*So [Prophet] call people to that faith and follow the straight path as you have been commanded. Do not go by what they desire, but say, 'I believe in whatever Scripture God has sent down. (Al-Shoora: 15)*

And amongst those holy books which Allah has mentioned specifically are the Qur'an, the Injeel (Gospel), the Zaboor (Psalms), the Tawrat (Old Testament) and the Suhuf (scriptures) of Ibrahim and Musa.

Despite differences with regard to particular laws and legislations mentioned in these books, **the core fundamental message** and purpose of life has been one and the same throughout these books which is to **worship Allah alone** and to completely submit to his will.

**THE DISTORTION OF THE INJEEL AND TAWRAT**

Iman in Allah's books means we believe in all of his books in their **original form**. The Injeel and Tawrat of today are certainly not the same books which were revealed to Isa AS and Musa AS. Allah says in the Qur'an:

فَوَيْلٌ لِلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتَابَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنْ عِنْدِ اللَّهِ لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ **فَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ** وَوَيْلٌ لَهُمْ مِمَّا يَكْسِبُونَ

*So woe to those who write something down with their own hands and then claim, 'This is from God,' in order to make some small gain. **Woe to them for what their hands have written!** Woe to them for all that they have earned! (Al-Baqarah: 79)*

However, people distorted and corrupted the Tawrat and Injeel by attributing their own sayings and desires to God, while adding and removing verses from them. Thus due to either or both negligence and deliberate distortion of the holy books, there is **no/little** connection between them and the books revealed by Allah S.W.T.

**THE QUR'AN AS A CONFIRMATION**

Muslims believe the Qur'an to be the final revelation of God's Word to mankind, and a **completion and confirmation** of previous books. Allah says

وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ

*We sent to you [Muhammad] the Scripture with the truth, confirming the Scriptures that came before it, and with final authority over them (Al-Ma'idah: 48)*

The Qur'an is described as **Muhaymin** meaning that it is a witness over the books that came before it. It confirms whatever is true in them and rejects whatever distortions, alterations and changes that have occured in them. It also abrogates any previous rulings mentioned in past books and sets the Qur'an as the final authority and ruling which we are to live our life according to and judge by.

The Qur'an and the Sunnah are therefore **Allah S.W.T's constitution for human life** for as long as people continue to live on Earth.

**THE PRESERVATION OF THE QUR'AN**

Allah S.W.T tested previous nations by delegating the preservation of the previous Books to their scholars and monks, but with his final revelation the Qur'an, He S.W.T **himself has guaranteed** to preserve and protect it from distortion/corruption.

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ

*We have sent down the Quran Ourself, and We Ourself will guard it. (Al-Hijr: 9)*

Allah S.W.T also says:

**لَّا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ** مِنۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ

***Falsehood cannot touch it** from the front or from the rear (Fussilat: 42)*

Falsehood is not able to touch or approach the Qur'an from any angle. None can succeed in proving anything false in the Quran, nor can anything be discovered till Resurrection which may be opposed to the truths and realities presented by the Quran.

What the Qur'an has **declared as the truth can never be proven to be falsehood** and that which it has declared as **falsehood can never be proven to be the truth**.

**************

# LESSONS FROM CORONAVIRUS

**By Abdul Mateen Latifi**

My friends, I give you good news, and I swear by Allah that the Corona virus is coming to its end, because it is not the way of Allah to continue disasters in the nations of prophet Muhammad (pbuh) for extended periods of time. I ask you, for the sake of Allah to stop returning to sinful dealings with interest. In the same way that you have controlled the mixing of your children with those who you do not allow them to mix with, please continue to do the same after the passing of this pandemic to protect yourself from hellfire. Fear Allah, as today you do not shake hands with those forbidden to mix with due to the Corona virus, please continue to do the same after the virus comes to its end to continue to stay protected from hellfire.



In order to stay safe from the possible death caused by the virus, you have taken many precautions, which is a positive thing. Isn't it better to take similar precautions for your deaths which is certain?

The eyes full of tears because of the closure of mosques are the same eyes that were tearless yesterday when the mosques were open. Such levels of faith, such levels of piety, such levels of fear of Allah, such levels of closeness to Allah and the fearing of death. These are the examples of the good servants of Allah and remain this faithful after the passing of the corona virus. I swear by Allah, that the world will be in a better place if we stay in this state. Today you seek forgiveness from each other by sending messages and asking people to forgive you for the sake of Allah.

The Corona virus will pass, but after that, continue keeping good ties with family and friends and do not return to sinful dealings with interest, do not send your parents to nursing homes. Today, the superpowers of the world are powerless, not due to threats of atom bombs but due to a virus that cannot even be observed, which is one of Allah's small armies. If you survive the corona virus and return to your forbidden habits, can you be sure that you will not experience Allah's punishment again? Allah is the one that can always get to you with the armies of earth and heaven, and you can never overpower Allah, so stay in the state that you are in right now.

Where is the immediate news of the killing of thousands of Syrians?

Where is the news of the thousands being killed in Gaza?

Where is the news of the thousands being murdered in Yemen and Iraq?

The whole world has come to a halt from killing and oppressing the innocent. That Syrian child that said, after the death of his father, "I will tell Allah everything" is safe today. Look at the killers and the oppressors today, they are afraid of a virus, I hope they will stay in fear like this until the day of judgement. I hope that, after the passing of the Coronavirus, the Yemenis will not suffer from famine, I hope after the Coronavirus, children will no longer die of hunger, I hope humanity remains like this.

Oh Allah, we express our weakness in front of you, Oh Allah, we bear you as a witness that we now know our limitations. There is no power that can bring harm or bring goodness without you. The westerners now understand that there is no worldly solution to every problem, and all Is managed by the power in Heaven. Indeed, from the day of the creation of the Heavens, everything was managed by the power of Allah.

Oh Allah, we are aware of our limitations now, we are weak and powerless, we are the beggars at your doorstep. Oh Allah we know you are Qahar and Jabbar, but we also believe you are Rahman and Raheem. Oh, the most merciful, please prevent us from facing any further calamities. Oh Allah we are surrounded by the effects of this pandemic, because of this virus we have lost relatives and friends, we ask you to remove this virus from the face of the earth and to save us. Oh Allah, please do not further prolong this virus outbreak and make this virus the cause of our guidance and allow us to return to our natural life.

# How Martin Become Muslim?

My name is Jeremy and I am from Leeds. I became Muslim in 2004 at the age of 21, and since that time I have also been known as Yusuf.

I was brought up in a practicing Christian environment; my mother and father were missionaries in Uganda for around 17 years. I am the youngest of my siblings and I was born towards the end of their mission, spending the first two years of my life there. My family moved to Leeds shortly after we returned to England. I was sent to Church of England schools and my parents were very active in their church. It's fair to say that I was brought up in a strongly religious household.

Shortly before my teens, it suddenly dawned on me what the central message of Christianity is. We were being taught that Jesus, whom I had always understood to be a great man, is somehow also God. Whilst I didn't question it too much at the time, I remember thinking that it was a little strange and it made me feel a little uneasy. When I hit my teenage years, I began to experience life in a new way, taking a path that, as a relatively conservatively raised child, I had assumed I would not venture down. Apart from my obsession with cricket, I had a keen interest in music and I soon became caught up in the stereotypical musician's party lifestyle.

I met a young Muslim woman whom I fell in love with. Although it was clear that she felt the same way, she also made it clear that a relationship was pointless as I was not a Muslim and that a Muslim woman can only marry a Muslim man. Deep down I felt that this was positively barbaric and against everything I had been taught, but at the same time I was amazed that she, a beautiful, intelligent and articulate woman, would find this to be a completely sane position.

Once I had got over the initial shock, I asked her: "What is Islam?" From there, we began a dialogue about religion, politics, sociology and aspects of popular culture. At first, these conversations were just for general interest and I had no intention of actually becoming Muslim. I was always struck by her natural wisdom, which I now know was the result of having been brought up with the Qur'an and the teachings of Muhammad, peace and blessings be upon him. I was later given the Yusuf Ali translation of the Qur'an, and I would wash my face, hands and arms, wipe my head and ears, and wash my feet, as I had been instructed (a process called wudu), before reading it every night before bed. I was not much of a reader, but I really wanted to understand it for what it is, and so I would read a very short portion and try to reflect on the meaning.I was hooked.

What was really surprising to me was, not just the fact that many of the major characters from the Bible were in the Qur'an (Adam, Noah, Abraham, Moses, Jesus), but that I was very clearly in there too. It explained me to myself – and I didn't like everything that I learned.

This is perhaps best illustrated by an incident that happened to me one night whilst I was reading. I had reached the chapter in the Qur'an call Surat al-Noor – the Chapter of Light. In it is the following passage:

Allah is the Light of the heavens and the earth. The metaphor of His Light is that of a niche in which is a lamp, the lamp inside a glass, the glass like a brilliant star, lit from a blessed tree, an olive, neither of the east nor of the west, its oil all but giving off light even if no fire touches it. Light upon Light. Allah guides to His Light whoever He wills and Allah makes metaphors for mankind and Allah has knowledge of all things.
(v. 33)

Just as I read this, I was hit by what I can only describe as a feeling of peace and happiness coupled with a deep innate knowledge that this was somehow true. I wasn't sure where this came from, although it seemed to be from both outside of me and inside of me at the same time. I read it over and over and I could almost but not quite comprehend it, yet at the same time it seemed absolutely true. Somewhat stunned by this, I carried on reading until I reached the following:

But the actions of those who are disbelievers are like a mirage in the desert. A thirsty man thinks it is water but when he reaches it, he finds it to be nothing at all, but he finds Allah there. He will pay him his account in full. Allah is swift at reckoning.

Or they are like the darkness of a fathomless sea which is covered by waves above which are waves above which are clouds, layers of darkness, one upon the other. If he puts out his hand, he can scarcely see it. Those Allah gives no light to, they have no light.
(v. 39-40)

This is where I encountered myself again. I had spent my whole life chasing a mirage; I wanted to be liked, respected, loved – I wanted people to think that I was cool. I was thirsty for contentment and happiness (and although I did not realise it – Allah), and I thought adopting the lifestyle I had chosen would bring me that, but I found nothing but my recompense – and that was anxiety and depression. I understood directly that the 'swiftness' in the account was, in fact, immediate. Then I wondered: "How did anyone at that time know that the bottom of the ocean is dark? It is not possible to dive that deep, and this was apparently a desert religion." I was, however, sure that I was in a dark place myself.

I found guidance in submitting my whole self, inward and outward, to Allah, my Creator. I found that it became easy to do without many of the things I had previously believed I needed. Pork and alcohol became repulsive to me, and I actually wanted to live a good, clean and wholesome life. It felt liberating.




## فعالیتها و خدمات ما درین ماه




تماس با ما
media@hayatfoundation.org.uk
hayatfoundationuk
+44 7588 811824 - +44 7508 848893
www.hayatfoundation.org.uk

ماهنامه حراء
Monthly Hera
میاشتنی
ماهنامهٔ تربیتی علمی و دینی